**په افغانستان کې د ملګرو**
**ملتونو** مرستندويه پلاوی

**مطبوعاتي اعلاميه**

۱۷ مارچ ۲۰۲۶
لا ډېرو معلوماتو لپاره دغه بريښناليک ته ايميل وکړئ: spokesperson-UNAMA@un.org

## په کابل کې پر يوه روغتيايي مرکز د هوايي بريد په اړه د يوناما بيانيه

د مارچ په ۱۶مه، د شپې شاوخوا ۹ بجې په کابل کې، د پاکستان نظامي ځواکونو لخوا د ترسره شوي هوايي بريد له امله "اميد د روږدو کسانو د درملنې روغتون" اغېزمن شوی. ياد روغتون کې په نشه يي توکو د روږدو کسانو درملنه کېدله، چې د راپورونو له مخې پکې لسګونه کسان وژل شوي او ټپيان شوي دي.

يوناما د وژل شويو کسانو له کورنيو سره خپله ژوره خواخوږي څرګندوي او ټپيانو ته د بیړنۍ روغتيا هيله کوي.

د نړيوالو قوانينو له مخې، په شخړه کې ښکېل ټول اړخونه بايد د ناروغانو، ټپيانو، روغتيايي پرسونل، روغتونونو او امبولانسونو درناوی او ساتنه وکړي. او همدارنګه په روغتونونو او ملکي تاسيساتو بريدونه په کلکه منع دي.

په ټول افغانستان کې، عام ولس د افغانستان او پاکستان ترمنځ د روانې شخړې بيه پرې کوي. د امنيت شورا د ماموريت سره سم، د روان کال د فبروري له ۲۶مې راهيسې او د مارچ د ۱۶مې له پيښې د مخه، يوناما په افغانستان کې د روانو جګړو له امله لږ تر لږه د ۷۶ ملکي وګړو وژل کيدل او ۲۱۳ نورو ټپي کيدل مستند کړي دي.

يوناما د تاوتريخوالي راکمولو او د بيړني اوربند لپاره خپله غوښتنه يوځل بيا تکراروي، او په ټولو اړخونو غږ کوي چې د نړيوال قوانينو تر چتر لاندې د ملکي وګړو د خونديتوب لپاره خپل مکلفيتونه په پام کې ونيسي.

پای

* * *